# د علامه عبدالعلي اخونزاده علمي
# او ادبي خدمات

صفیه رحمان پانیزۍ*

**Abstract**:

Allam Abdul Ali Akhonzada is one of the leading contemporary poets of Southern Pashtoon Khwa as well as a prose writer. In this article the author has strived to critically analyse the teachings of Allama Abdul Ali Akhonzada.The author has thoroughly discussed the writings of Allama Abdul Ali Akhonzada and pointed out the historical misconceptions regarding some of the very important issues.

په اوسني وخت کښې چې د ادب په میدان د علامه عبد العلي اخونزاده په اړه کوم معلومات پوهانو ورکړي دي، هغه ئې یوازې تر شاعري پورې محدود ساتلی دی. خو په حقیقت کښې علامه صاحب د شعر له څنګه نثر هم لیکلی دی. خو دلته د پښتنو په ابتدائي ژوند کښې چې څومره نثر لیکل شوی دی، هغه ډېر کم د ادب مخې ته راغلی دی، د نورو لیکوالانو غوندې د علامه عبد العلي اخونزاده د نثر ډېر کتابونه ضائع شوي دي، خو له ښۀ مرغه ئې د شاعرۍ دوه کتابونه ئې چاپ شوي دي چې یو د شاخ ګل په نامه او دوېم د دیوان عبد العلي اخونزاده په نامه چاپ شوی دی، چې په دې کښې هم څۀ شاعري ضائع شوې ده او څۀ چاپ ده.

په لنډو ټکو کښې وئیلی شو چې د علامه عبد العلي اخونزاده د نظم او شعر دغسې د فارسي، عربي او پښتو ټول کتابونه شپږو ته رسېدو او ورسره ئې څلرویشت نظمونه، قطعات او څو څو شعرونه په بېلا بېلو موقعو وئیلي دي. واصل واسطي د حافظ خان محمد په اړه وئیلي دي چې حافظ صاحب د علامه صاحب د هېڅ کتاب ذکر نۀ دی کړی، او لیکي:

* M.Phil Scholar, Dept. Of Pasho University of Balochistan Quetta.

"سوال یہ ہے کہ انھوں نے کتابیں لکھی تو ہے، مگر پھر دست برد زمانہ سے ضائع ہوئیں، یا انھوں نے بلکل لکھا ہی نہیں، محققین کا اس بارے میں اختلاف ہے، حافظ صاحب کا رجحان نفی کی طرف ہے، لکھتے ہیں، وہ اپنی موت تک زمین داری اور طبابت کرتے رہے، انھوں نے نہ کوئی تصنیف کی اور نہ کوئی درس دیا"(١).

د واصل واسطي لـه حوالي داسې معلوميږي چې د حافظ خان محمد رائې دا وه چې علامه صاحب کله هم کتاب نۀ دی ليکلی، او حواله د حافظ خان د کتاب صفحه 119 ورکوي، حالانکې په دغه صفحه وئيلي دي چې:

"د دۀ د اشعارو ديوان ما وساتۀ، او د هغۀ ديوان انتخاب مسمٰی په "شاخ گل" زما په کوښښ چاپ شو"(٢).

له هم دې حوالې معلوميږي چې حافظ خان محمد ئې خپله د شعرونو ديوان ترتيب کړې ؤ او په هم دغه کتاب کښې د شهيد عبد الواسع اخونزاده په اړه چې علامه صاحب ته ئې د نامه د شهرت وئيلي ؤ چې هسې مشهور ئې که علم هم لري؟، عبد العلي اخونزاده پر کتاب حاشيه وليکله او په ځينو روايـاتو کښې راځي چې علامه صاحب روغ کتاب ورته وليکۀ. له دې روايـاتو معلوميږي چې د علامه صاحب په ژوند کښې د تاليف او تصنيف ليکلو ثبوتونه موجود دي. د علامه صاحب لومړی کتاب چې د فضل احمد غازي په زيار را ټول شوی دی، د ښاخ گل په نامه د شعرونو وړه مجموعه ده، دوېم چاپ کتاب ئې د عبد العلي اخونزاده ديوان دی چې د پښتو اکېډمۍ تر نظارت لاندې چاپ شوی دی. درېم کتاب ئې "پښتو عربي لغت" دی چې تراوسه پورې چاپ شوی نۀ دی. څلورم کتاب ئې "مخزن المفردات" نوميږي چې دا کتاب هم تراوسه نۀ دی چاپ شوی. پنځم کتاب ئې د "الافغان" په نامه ياديږي چې په فارسي ژبه کښې دی او د پښتنو په د تاريخ په اړه ببلا بېلې نظرئې په کښې ليکل شوې دي، دغه کتاب ئې هم تراوسه پورې نۀ دی چاپ شوی. شپږم کتاب ئې د "آئينۀ حقيقت نما" په نامه دی چې په فارسي ژبه کښې دی او پر دۀ د علماوو له خوا د الزاماتو جوابونه د شعرونه په شکل کښې شوي دي. دا کتاب هم تراوسه پورې نۀ دی چاپ شوی. اووم کتاب ئې د "فيصله اسماني" په نامه ياديږي چې دغه کتاب هم په فارسي ژبه کښې دی او د مرزا غلام محمد قاديعني چې د پېغمبرۍ دعوٰی ئې کړې وه د هغۀ د خبرو په ځواب کښې ليکل شوی دی او دغه کتاب هم تراوسه پورې نۀ دی چاپ شوی.

له دې پرته دا هم وئيل کيږي چې علامه صاحب د ديوان بېدل پښتو شرح هم ليکلې وه، خو هغه هم اوس په ميدان نۀ شته او ځينې شعرونه ئې محققينو ورکړي دي چې هغه ئې د نمونې او ثبوت دپاره کافي دي.

**شاخِ ګل**: د علامه صاحب د کتابونو له تفصیل څخه لومړی کتاب د "ښاخ ګل" په نامه چاپ شوی دی چې د پښتو ژبې ستر خواخوږي فضل احمد غازي ترتیب کړی ؤ او د خان شهید عبد الصمد خان له یوې خوندورې سریزې سره ئې چاپ کړی دی. د ښاخ ګل په اړه وینو چې پروفېسر سیال کاکړ داسې لیکي:

"د ستر عبد العلي چوڼ کلام چې د شاخ ګل په نامه سره یادېږي زما په مخ کښې پروت دی، دا کتاب اتیا مخونه لري، او د پښتو ژبې پیاوړی ادیب ښاغلي فضل احمد غازي ترتیب ورکړی دی، هرکله چې د "شاخ ګل" اشعارو ته په انتقادي کتنه ګورم نو بس یوه خبره په نظر راځي چې د اخونزاده مرحوم اشعار بېخي کلکه عشقیه بڼه لري خو بیا هم د پښتو ادب په تاریخ کښې عبد العلي اخونزاده د یؤ ستر او هسك مقام څښتن دی او دۀ چې د عشق کومه ډیوه بله کړې ده، هغه به په ډېر ځنډ سره مړه کیږي"(۳).

د عبد العلي اخونزاده دغه د "ښاخ ګل" په نامه کتاب لومړی ځل حافظ خان محمد ته په لاس ورغلی ؤ او هغۀ خوندي کړی ؤ. او هغه لیکي:

"د دۀ د اشعارو دیوان ما وساتۀ، او د هغۀ دیوان انتخاب مسمیٰ په "شاخ ګل" زما په کوشش چاپ شو، که نۀ دا به هم د نورو پښتو کتابو په ډول ورك وای. د دۀ پر اشعارو تبصره نۀ کوم دا کار و نورو پوهانو ته سپارم، د دۀ دیوان دوه سوه (200) غزلې لري او شل (20) غزلې ئې فارسي دي، دی د دیوان په مقدمه کښې لیکي چې زما د غزلو دیوان ورك شو، اوس سیلون لنکا په جامع کښې خپل اشعار په یاد لیکم، او بعضې غزلې زما دوستانو راکړې. دا مجموعه ئې غالباً په 1440هـ ق کښې لیکلې ده"(۴).

د عبد العلي اخونزاده د اشعارو دیوانونه اکثرا د دوی له بې غورۍ هم ورك شوي دي او دا خبره هم په دې کښې راځي چې په وروستي دور کښې د علامه عبد العلي اخونزاده له شاعرۍ زړۀ تور شوی ؤ او شاعري ئې خان شی نۀ بالۀ، ځکه خو ئې د شاعري د خوندي ساتلو ډېره هڅه نۀ کوله او په دې اړه حافظ خان محمد لیکي:

"ځلوېښت کال اخیر ئې اشعار نۀ وئیل، یو وخت زما په دوکان کښې ناست ؤ، د څو هندي شعراء سره ئې ما تعارف کاؤ، و هغو ته ما ووئیل چې دی لوی شاعر او عالم دی، د شاعرۍ پر وئیلو ناراض شو، او وئیل ئې چې دا څۀ کار نۀ دی، بېشکه د دۀ و کمالاتو ته دا ادنیٰ صفت دی."(۵)

د علامه عبد العلي اخونزاده د کتابونو لیکلو په اړه صاحبزاده حمید الله له نورو پوهانو لږ جلا غوندې خبره کوي او دا نۀ مني چې عبد العلي اخونزاده دې د تالیف او تصنیف خوا ته هم توجه کړې وي او عذر ئې داسې بیانوي:

"اخـونزاده صـاحب د پښــتو ماسـپوا پـر فارسـي او عربـي بانـدې هـم ډېـر زيـات قـدرت درلـود خـو عجبـه دا ده چې دهٔ د تصـنيف او تـاليف ډگـر نـهٔ کـړ غـوره چې غالبـاً د هغـهٔ دور پـه علمـاوو کښـې دا شـی نـهٔ ؤ. بيـا هـم دهٔ د فارسـي او د عربـي يـو څـو رسـالې ليکلـې وې. خـو د پښــتنو د بـې غـورۍ او د علـم و ادب او تحقيـق و تـاليف سـره د عـدم دلچسـپۍ لـه کبلـه هغـه خدای خبر چې يـو ځـای پـه رد کاغـذانو کښـې د نسـوارو پـوړۍ شـوې او کـه چـا بـل چـا پـر خپـل نامه واړولی او گټه ئې ځنې واخسته."(۶)

د صـاحبزاده حميـد الله دغـه خبـره چـې د تصـنيف او تـاليف ډگـر ئـې خـوښ نـهٔ کـړ، د علامــه صــاحب د فارســي، پښـتو او عربــي د کتــابونو ذکــر ډېــرو محققينــو کــړی دی. او د دوی پـه ديـوان کښـې د فارسـي غزلـو برخـه شـامله ده او د دوی پـه خپلـه دغـه مقالـه کښـې مخکښـې چـې دوی څـهٔ وائـي لـه دې خبـرې سـره تضـاد راځـي ځکـه چـې هلتـه ئـې دهٔ خپلـه د تصنيف او تاليف اقرار کړی دی:

"پـه حېـث د حاضـر جواپـه اخـونزاده صـاحب تـر شـېخ سـعدي او مـرزا غالـب کـم نـهٔ ؤ، د پښـين د سـيمې پښـتانهٔ هـم هغـه رنگـه د هـرې خبـرې نسـبت چـې متلـي وي، و عبـد العلـي اخـونزاده تـه کـوي لکـه فارسـي بانـان چـې ئـې و شـخې سـعدي تـه کـوي، پـه حېـث د شـاعر اخـونزاده صـاحب د دې سـيمې لـومړی باقاعـده او پـوره او کـره پښـتو شـاعر دی چـې هـم پـه عـروض او بلاغـت پوهېـدی او هـم پـه معـاني او ادبيـت او پـه 1957ء کښـې د فضـل احمـد غـازي لـه خـوا چاپېـدونکی د اخـونزاده صـاحب شـعري مجموعـه "شـاخ گـل" د دې دعـوې بشپړه ثبوت دی."(۷)

د صـاحبزاده حميـد الله د پـورتنۍ خبـرې چـې دوی وئيـل علامـه صـاحب تصـنيف او تــاليف تــه خــاص توجــه ور نــهٔ کــړه ځکــه چــې پــه هغــه وخــت کښــې د تصــنيفاتو او تاليفــاتو خــاص رواج او دود نــهٔ ؤ. د هــم دې وضــاحت دپــاره د صــاحبزاده صــاحب يــوه بلــه مقالــه وگورئ:

"د شـاعرۍ سـره د عبـد العلـي اخـونزاده پـه نثـر کښـې هـم برخـه درلـوده، دهٔ د بېـدل پـر ديـوان يـوه شـرح هـم پـه فارسـي ژبـه کښـې ليکلـې وه، پـه 1330هـ کښـې ئـې د لسـو کسـو پـه مرسـته د پښـتو يـو ديـوان ليکـل پېـل کـړی او تـر ډېـره ئـې ليکلـی ؤ. پـر خلافـت، و سياسـت او عادت و بدعت باندې هم څهٔ مقالې په عربي او فارسي ژبه ليکلې وې"(۸).

دغســې د علامــه صــاحب پــه پښــتو او نــورو ژبــو کښــې د تصــنيف او تــاليف پــه اړه ديــن محمد صلاحي هم ليکي چې:

"لـه شـاعرۍ څخـه پرتـه علامـه مرحـوم څـۀ نـور علمـي کتابونـه هـم پـه عربـي، فارسـي او پښـتو کښـې ليکلـي وو، حـافظ خـان محمـد مرحـوم پـه خپلـه يـوه مقالـه کښـې ليکـي، لـه دې کتـاب د غـزل عـلاوه د يـو شـرح پـه نامـه دې ځـوان د بېـدل پـر ديـوان هـم پـه فارسـي کښـې ليکلـي وو، زمـا اسـتاد مـلا حـافظ ادم خـان مرحـوم و مغفـور راتـه وئيلـي وو چـې عبـد العلـي اخـونزاده پـه کـال 1330هــ کښـې يـو لغـات د پښـتو پـه پښـتو جـوړ ؤ، پـه دې کـار کښـې مـونږ لـس تنـه عالمـان د مختلفـو علاقـو د دۀ امـداد کـاؤ، هغـه لغـات تـر ډېـره دۀ وليکـۀ، څـۀ مقـالې ئـې پـه عربـي او فارسـي ژبـه هـم ليکلـې وې، پـه دې مضـامينو کښـې دۀ پـر خلافـت، سياست، عادات او بدعات باندې ډېر څۀ ليکلي وو."(۹)

د افغانسـتان لـوى ليکـوال ښـاغلى شهسـوار سـنګروال د علامـه عبـد العلـي اخـونزاده د پښتو ژبې او ادب د خدماتو په اړه داسې ليکي:

"هـم دا شـان يـو بـل عـالم، ليکـوال او پـوه عبـد العلـي کـاکړ چـې پـه جنـوبي پښـتونخوا پـه 1922ء کـال د تعلـيم (ښـووني او روزنـې) وزيـر ؤ، د پښـتو ادب د پراختيـا او پرمختيـا دپـاره ګټـور ګامونـه پورتـه کـړي دي، عبـد العلـي کـاکړ د عبـد الحی حبيبـي پـه ملګرتيـا د کانسـي پـه کلـي کښـې پټـه خزانـه وموندـه، نومـوړى ښـۀ شـاعر او اديـب دى چـې د "شـاخ ګـل" پـه نـوم د اشـعارو مجموعـه ئـې خپـره کـړې ده، دغـه اسـتاد شـاعر، د کلاسـيکو ادبيـاتو متخصـص او سـتر پښـتون ډېـر شـاګردان ئـې روزلـي دي چـې حـافظ خـان محمـد کـاکړ د مثـال پـه توګـه يادولی شو."(۱۰)

پـه پورتنيـو حوالـو کښـې دا خبـره ثرګنـديږي چـې دغـه د "شـاخ ګـل" پـه نامـۀ د علامـه صـاحب د شـاعرۍ وړوکـی کتـاب حـافظ خـان محمـد تـه پـه لاس ورغلـی ؤ او وروسـته ټـول محققـين دا رائـې لـري چـې "شـاخ ګـل" نـومي کتـاب فضـل احمـد غـازي ترتيـب کـړی او چـاپ کـړی ؤ. پـه دې کښـې هـېڅ شـك نـۀ شـته چـې پـه لـومړي ځـل دغـه کتـاب حـافظ خـان محمـد تـه پـه لاس ورغلـی ؤ خـو وروسـته دوی فضـل احمـد غـازي تـه ورکـړی ؤ او د چـاپ تـر مرحلـې د غازي صاحب په نګرانۍ کښې تېر شوی دی.

**د علامه عبد العلي اخونزاده ديوان:**

دا کتـاب پـه پښـتو او فارسـي شـاعري مشـتمل دی، زياتـه برخـه ئـې د پښـتو غزلـو ده، لـه غزلـو وروسـته ځنـې داسـې سـندرې پـه ديـوان کښـې موجـودې دي چـې هغـه د عبـد العلـي اخـونزاده د بانـډار د وخـت سـندرې دي او اوس هـم چـې پـه تـرنم کښـې وئيـل کيـږي نـو هغـه د بانډاري شعرونو وئيلـو پـه انـداز وئيـل کيـږي. پـه وروسـتۍ برخـه کښـې ئـې ځينـې د فارسـي غزلـې شـاملې دي. ټـول ديـوان پـه دوه سـوه اوولـس صـفحو مشـتمل دی، او د ديـوان پـه نامـه

په کال 1992ء کښې د پښتو اکېډمۍ کوټې له خوا چاپ شوی دی. په دغه کتاب دوې ورې سریزې لیکلې شوې دي چې یوه د پښتو ژبې د ستر شاعر ښاغلي درویش دراني ده چې په هغه وخت کښې د پښتو اکېډمۍ کوټې صدر ؤ. دویمه لنډه سریزه د پښتو ژبې او پښتنو خیرخوا ښاغلي سرور سودائي ده چې هغه وخت د پښتو اکېډمۍ د جنرل سېکرېټري په چوکۍ ناست ؤ. وروسته علامه عبد العلي اخونزاده د خپل دیوان په اړه لنډه وضاحت کړی دی او دی لیکي:

"زما غزلونه د دیوان چې له ډېره عمره شا و خوا هر چرې په عالم کښې ځله خوارۀ وو او هیچا نۀ وو یو ځای کړي، ملا عبد الوهاب مرحوم چې څۀ سره ټول کړی ؤ، هغه پس د دۀ له مرګه سره ورك شو او له ما څخه ډېرو خلګو د چاپولو دپاره زما د دیوان غوښتنه وکړه، په سبب د نۀ میندلو دواړو غزلو، ما همېشه په خبرو کښې ټال واچاؤ مګر بیا هم په وجه د ضرورت هغه چې د چا یاد وو یا له ما څخه د ځینې غزلو مسوده وه هغه اوس په دې کښې د رب په کومك سره ټولوم چې په راتلونکي زماني کښې پېلامه د یادولو زما شي، ولې چې انسان د نامۀ د پاتېدلو زیات تږی او دعا ته د هر چا وړی دی، نو شاید چې ځینې مهربانان... بعد له اورېدلو د سوز د غزلو له شوق منده زړۀ دعا د خیر را پسې وکړي، ولې چې مونږ ئې د نورو ته کوو. په تاریخ د دوولسمې د روژې 1340هـ په ملك د سېلون (سري لنکا) په ښار د کوړم (کولمبو) په مسجد د کمپنۍ توري کښې ورځ د یکشنبې په قلم خپل د عبد العلي کاکړ، سنتیا، هارون خېل، فاني زی (پانیزی) خانوزی عالم زی، زوی د ملا عبد الخالق اخونزاده، هغه زوی د ملا عبد الرحمٰن اخونزاده، هغه زوی د ملا حقداد اخونزاده، هغه زوی د ملا اطول اخونزاده، هغه زوی د ملا قلندر اخونزاده، هغه زوی د ملا محمود اخونزاده، هغه زوی د ملك عالم خان هغه زوی د ملك داد حق خان، هغه زوی د خان خان چې قبیله ئې خانوزی ده، هغه زوی د مسمٰی فاني چې نهایت لوی شېخ فاني فی الله ؤ او نوم ئې عبد الله ؤ."(۱۱)

له پورتنۍ حوالې معلومېږي چې د علامه عبد العلي اخونزاده د شعر نیلی به ډېر په ځوانۍ ؤ او ډېره شاعري به ئې کړې وي خو دلته چې کومه شاعري په دیوان کښې چاپ شوې ده، دا ئې بشپړه شاعري نۀ ده بلکې ډېره شاعري ئې ورکه شوې ده، کېدای شي داسې وخت څوك را پیدا شي چې له هغۀ سره د علامه صاحب له دې دیوان پرته نوره شاعري هم میدان ته راشي. او دغسې چې کوم کتابونه ئې ورك دي هغه هم شاید چرته چا ته په لاس ورغلي وي او یو وخت هغه هم میدان ته راشي. دغه دیوان ئې ټوله شاعري نۀ ده، درویش درانی هم وائي چې:

"هرکله چې دا دیوان تش له یوې نسخې څخه را نقل شوی دی، ځکه نو په یقین سره دا نۀ شي وئیل کېدی چې بشپړ به وي، که چرې له چا سره د اخونزاده صاحب داسې کلام پروت وي چې په دې موجوده چاپ شوي دیوان کښې شامل نۀ وي، مونږ هغوی ته دا خواست کوو چې د اکېډمۍ سره مرسته وکړي او دغه ناچاپه کلام په دې نیت ورکړي چې په دوېم ایډیشن کښې ځای کړل شي، دا به د دوی له اړخ د پښتو یو لوی خدمت وي. مونږ ته چې د اخونزاده صاحب د دیوان کومه نسخه په لاس راغلې وه هغه په زړۀ املا کښې وه، ښاغلي ابو الخیر ځلاند ته دا کار وروسپارل شو چې په نوې املا کښې ئې را واړوي، ښاغلي ځلاند دا وظیفه په ډېر دیانت سره ترسره کړه."(۱۲)

په دغه حواله کښې د ښاغلي دروېش درانی له خبرو دا معلومه شوه چې د علامه صاحب د ټولې شاعرۍ دیوان همدغه نۀ دی، کوم چې پښتو اکېډمۍ چاپ کړی دی، دوېمه خبره دا چې د دې کتاب په املا کښې ځلاند صاحب ډېره خواري کښلې ده، خو ځلاند صاحب یوه بله دعویٰ دا هم لري چې ما د دغه دیوان له املا سمولو سره سره له دیوان سره متعلق ډېر لغات له دیوانه را ایستلي وو، خو ګوره چې هغه پښتو اکېډمۍ ولې چاپ نۀ کړو. لکه ځلاند صاحب وائي:

"غالباً په نومبر 1990ء کښې د پښتو اکېډمۍ بلوچستان د هغه وخت صدر ښاغلي عبید الله دروېش و ما ته د علامه عبد العلي اخونزاده د اشعارو خطي نسخه په دې نیت را حواله کړله چې زۀ ئې صفا او په مردف ډول له نوي سره په نوې املا کښې ولیکم چې ورته ما هغه مسوده نۀ یوازې له نوي سره ولیکله بلکې د علامه صاحب د شعري مجموعې د مشکلو لغات حل مي هم په شل پنځۀ ویشت مخونو کښې له خپله مخه د لوستونکو د اسانتیا دپاره ولیکۍ هغه په دې چې اخونزاده صاحب مرحوم په خپلې شاعرۍ کښې داسې نادر او ګران توري په خصوصیت سره د کاکړۍ لهجې مقامي لغات په کار راوستلي دي چې د نن د خلګو دپاره هغه خورا مشکل بلکې متروك دي... خو په ډېر افسوس سره وئیل غواړم چې ګران دروېش په 1992ء کښې د علامه صاحب ضخیم دیوان خو شائع کړ لېکن بې زما له لیکلي فرهنګ څخه چې معنیٰ ئې دا شوله "اوښ تر بار لاندې روان ۀ خو چې رغبېل ئې پر کښېښوو وئیل ئې دروند شوم."(۱۳)

دیوان چې د غزلو ترتیب ئې د حروف تهجي په اعتبار راغلی وي، یعني د هرې غزلې ردیف د الف او بې په اعتبار راوړل شوی وي، د عبد العلي اخونزاده دیوان هم دغسې راغلی دی او صاحبزاده حمید الله د دوی د دیوان په اړه داسې لیکي:

"کــه څـۀ هــم عبـد العلـي اخـونزاده دومـره اوزګـار نـۀ ؤ چـې خپـل ټـول وخـت ئـې د پښـتو شـاعرۍ د بـاغ پالنـه او روزنـه کـړې وای بيـا هـم دۀ تـر ډېـره حـده پـورې د خپلـې مـورنۍ ژبـې پښـتو خـدمت کـړی دی، د پښـتو د لويـو او نـامتو شـاعرانو غونـدې عبـد العلـي اخـونزاده هـم رديـف وار يعنـي د الـف څخـه تـر ئـې پـورې خپـل ديـوان وليکـئ، د دۀ ځينـې غزلـې پـه هغـه مځکـه يعنـي رديـف او قافيـه کښـې دي، يـا پـه يـوازې هغـه رديـف کښـې دي پـه کـوم کښـې چې د رحمان بابا او د حميد بابا غزلې دي"(۱۴).

**پښتو عربـي لغـات**: دا هـم د علامـه عبـدالعلي اخـونزاده پـه نثـري خـدماتو کښـې يـو اهـم کتـاب دی چـې د پښـتو او عربـي پـه لغـاتو مشـتمل دی. چـې ډېـرو کتـابونو ئـې ذکـر کـړی دی، هـم د دغـه کتـاب پـه اړه صـاحبزاده حميـد الله د لغـاتو پـر ځـای دغـه کتـاب د بېـدل د ديـوان شـرح ګڼي او ليکي:

"د شـاعرۍ سـره د عبـد العلـي اخـونزاده پـه نثـر کښـې هـم برخـه درلـوده، دۀ د بېـدل پـر ديـوان يـوه شـرح هـم پـه فارسـي ژبـه کښـې ليکلـې وه، پـه 1330هــ کښـې ئـې د لسـو کسـو پـه مرسـته د پښـتو يـو ديـوان ليکـل پېـل کـړ او تـر ډېـره ئـې ليکلـی ؤ، پـر خلافـت او سياسـت او عادت و بدعت باندې ئې هم څۀ مقابلې په عربي او فارسي ژبه ليکلې وې"(۱۵).

پـه دې کښـې هـېڅ شـک نـۀ شـته چـې علامـه صـاحب د بېـدل د ديـوان د ځينـو شـعرونو تشـريح کـړې ده خـو ټـول کتـاب ئـې نـۀ دی تشـريح کـړی البتـه د نـورو ملګـرو پـه مرسـته چـې کـوم کـار کـړی دی هغـه محققينـو د لغـاتو کتـاب ګڼلـی دی، بلکـې دغـه د لغـاتو کتـاب ابـو الخيـر ځلانـد خپلـه هـم ليـدلی ؤ، چـې د صـاحبزاده حميـد الله د دغـې خبـرې ترديـد ځنـې کيـږي چـې دغـه د لسـو يـا نهـو کسـانو پـه مرسـته چـې علامـه صـاحب کـوم کتـاب ليکلـی ؤ هغـه د بېـدل د ديـوان شـرح نـۀ وه بلکـې د لغـاتو کتـاب ؤ پـه دې اړه ابـو الخيـر ځلانـد صـاحب ليکي:

"همدغـه ډول حـافظ خـان محمـد مرحـوم د خپـل اسـتاد حـافظ ادم خـان پـه حوالـه ليکـي چـې مـونږ لـس تنـه عالمـانو چـې د مختلفـو علاقـو وو، لـه علامـه صـاحب سـره د پښـتو د لغـات پـه ليکلـو کښـې مرسـته کولـه، هغـه لغـات دۀ تـر ډېـره پـورې وليکـل خـو بيـا ځنـې پاتـه شوو"(۱۶).

بـل ځـای بيـا صـاحبزاده حميـد الله د خپلـې خبـرې ترديـد خپلـه هـم کـوي او د بېـدل د ديـوان پـر ځـای ئـې هـم دغـه د لغـت خبـره کـړې ده خـو هغـه د روغ کتـاب د مـوادو خبـره نـۀ بلکې په لغات باندې د لږ څۀ کار کولو خبره کوي او ليکي:

"پـه تېـره بیـا دا چـې یـو خـوږ ژبـی شـاعر ؤ، د پښـتو او فارسـي ډېـر پُـر مغـزه کـلام ئـې درلود، پر لغت ئې هم څۀ کار کړی ؤ"(۱۷).

د دغـه کتـاب پـه اړه د محققینـو بـېلا بېلـې رائـې دي چـې ایـا دغـه کتـاب ؤ کـه هسـې ځینې لغات را جمع شوي وو، او بیا دغه کتاب څۀ شو؟ یا په لغاتو باندې څۀ کار شوی ؤ خو د دې خبرې زیات وضاحت ابو الخیر ځلاند داسې کړی دی:

"دا لغـت اوس هـم د علامـه صـاحب لـه لـور عالیـه اسماء سره موجـود دی چـې پـه یـوې عـامې کـاپۍ (نـوټ یـګ) کښـې لیکـل شـوی دی، دا کـاپۍ مـا (ځلانـد) لیـدلې ده او نقـل مـې ئې جوړ کړی دی چې که خدای ژوند راکړ نو به ضرور څۀ نه څۀ اضافه په کښې وکړم.

دا لغـت د پښـتو الفـاظو عربـي ترجمـه ده خـو نیمګـړی کوښـښ دی، مـثلاً کـه پـر یـؤ مـخ شـل پښـتو لغـات وي نـو پـه هغـو کښـې بـه ئـې د لسـو تـورو عربـي ژبـاړه ورکـړې وي، داسـې معلـومېږي چـې دا د اخـونزاده صـاحب ذاتـي زیـار دی، ولـې چـې چنـداني ډېـر کـار ئـې نـۀ دی پـرې کـړی، ممکـن دی د دۀ د ټـیم نهـو تنـو نـورو غـړو خپـل خپـل زیـار و علامـه صـاحب تـه نـۀ وي رسـولی او یـا د علامـه صـاحب د وفـات وروسـته هغـه ضـائع شـوی وي. بهرحـال دغـه نامکمـل لغـت هـم بـې ارزښـته نـۀ دی، عربـي ترجمـه خـو ئـې زمـونږ پـه درد نـۀ خـوري البتـه پښـتو لغـات ئـې خـورا نـادره او سـوچه دي، ځکـه چـې پـه سـهېلي پښـتونخوا کښـې پـر لغـت تسـلي بخـش کـار نـۀ دی شـوی، نـو پـه کـار دی چـې زمـونږ د بېلـو بېلـو سیمو کلیـوال او تعلیم یافتـه ځوانـان و دې خـوا تـه پـام راوګرځـوي او د علامـه صـاحب پـه ډکشـنري مکمـل کولـو کښې برخه واخلي"(۱۸).

پـه پـورتنۍ حوالـه کښـې ځلانـد صـاحب لیکـي چـې پـه هغـه دور کښـې پـه لغـات بانـدې تسـلي بخـش کـار نـۀ دی شـوی، زمـا خیـال چـې تـر علامـه عبـد العلـي اخـونزاده وړومبـی پـه سـهېلي پښـتونخوا کښـې پـه لغـاتو بانـدې بلکـل کـار نـۀ دی شـوی، کـه شـوی وي هـم هغـه بـه د پښـتو ژبـې لیکوالـو نـۀ بلکـې د مستشـرقینو پـه دور کښـې کـار شـوی وي او د مستشرقینو پـه دور کښـې اکثـره کـار هـم پـه لغـاتو، ګرائمـر، تـاریخ او جغرافیـه بانـدې کـار شـوی ؤ. خـو د پښـتو ژبـې لـومړی سـړی علامـه صـاحب دی چـې پـه لغـاتو ئـې کـار کـړی دی. لکه د ښاغلي افضل رضا له دې پیراګراف څخه ئې اندازه کولی شو هغه لیکي:

"ګولډن سټیټ: جرمنـي مستشـرق دی، د پښـتو پـه لغـاتو ئـې یـو کتـاب لیکلـی دی چـې پـه 1791ء کښـې پټـر زبـورګ کښـې چـاپ شـوی دی.... ډورن روسـی ؤ د پښـتو لغـت ئـې لیکلـی ؤ پـه کـال 1845ء کښـې پټرزبـورګ کښـې چـاپ دی.... هنـري والټـر بېلیـو دې انګرېـز مستشـرق هـم پـه پښـتو کښـې دوه کتابونـه لیکلـي دي یـو ئـې د ګرائمـر کتـاب دی

چې نوم ئې دا دی "اې ګرامر آف دی پختو ار پشتو لینګویج" د پښتو یا پشتو ژبې قواعد دا کتاب په کال 1867ء کښې لندن کښې چاپ شوی دی، بل ئې د پښتو یو لغت لیکلی دی چې په 1818ء کښې لاهور کښې چاپ شوی دی، وائي چې دهٔ د انجیل ترجمه هم په پښتو کښې کړې وه."(۱۹)

دغسې پروفېسر برنرډ ډورن چې په 1805 – 1888ء کښې تېر شوی دی هغه هم په لغاتو کار کړی دی چې د پښتو او روسي ژبې لغات ؤ د دغه لغات په اړه شهسوار سنګروال لیکي:

"نوموړی د ختیځو په تېره د قفقازي او خراساني ژبو څېړونکي او پروفېسر ؤ، ډورن د ځنې دسي او تاریخي کتابونو نه علاوه په 1845ء کښې یو پښتو روسي فرهنګ او په 1847ء کښې د پښتو ادبیاتو نه د انتخاب په نوم کتابونه خپارهٔ کړل"(۲۰).

دغسې له دې مستشرقینو پرته نورو مستشرقینو هم چې د بېلا بېلو هیوادونو سره تعلق لري په لغاتو کار کړی دی او اکثره لغات هم دغه د علامه عبد العلي اخونزاده د لغاتو په انداز لیکل شوي دي، چې زیات په کښې د پښتو او انګرېزي ژبې دي، که څهٔ هم د ځلاند صاحب د سوچ په رڼا کښې وئیلی شو چې په پښتو کښې ارزښت نهٔ شته خو په حقیقت کښې دا هم د پښتو ژبې ګټه ده چې د پښتو ژبې سوچه لغات نورو ژبو ته ورسیږي.

دلته د دوی د لغاتو څو نمونې وګورئ:

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| "پښتو | عربي | پښتو | عربي | پښتو | عربي |
| پښه | الرجل | پونده | العقب | پزه | الانف |
| پسرلی | الربیع | پسول | الحلي | پاك | الطاهر |
| پیر | الشبخ | پاړسوب | المورم | ائینه | کید |
| باړخو | الخد | آؤچه | القلال | بوټی | الحطب |
| انه | القرش | برخه | الحصه | ایرې | الرماد"(۲۱). |

دا خبره چې دا لغات بې ارزښته دي، بې ځایه ښکاري ځکه چې همېشه هغه شی په درد نهٔ خوري چې هغه به له هغې ژبې سره تعلق لري یا به ئې خامخا د هغې ژبې ویونکي زده کوي، که دغه توري د علامه صاحب په ژوند کښې را یو ځای شوي وای یا چې کوم د علامه صاحب له لور اسماء عالیه سره دي هغه د چاپ تر مرحله تېر شي نو یقیناً ګټه ئې ژبې ته رسي ځکه چې یو خو به د پښتو سوچه لغات خوندي شي او دوېم دا چې پښتو

بـه د عربـي ژبـې ويونکـو تـه هـم ورسـيږي او چـې هغـوی د پښتـو ځينـې نـورې يـاد کـړي او يـا ئې زده کړي په دې کښې د پښتو د لغاتو عمر زياتيږي او د پښتو پله باندې درنيږي.

**الافغـان**: دغـه د علامـه عبـد العلـي اخـونزاده د نثـر کتـاب دی او پـه ډيـره اهمـه موضـوع ليکـل شـوی دی چـې تراوسـه پـورې پـه هـم دغـه موضـوع تحقيـق روان دی او محققـين څيړنـې کـوي چـې پښـتانه نسـلاً څـوك دي؟ کـه څـه هـم اکثـر محققـين پـه دې متفـق دي چـې پښـتانه نسـلاً آريـن دي خـو بيـا هـم تراوسـه پـورې ځينـې پښـتانه محققـين د پښـتنو پـه اړه دا نظريـه لـري چـې پښـتانه بنـي اسـرائيل دي، ځينـې نظرئـې کـه څـه هـم لـه منځـه تللـې دي خـو دغـه د بنـي اسـرائيلو د نظرئـې منـونکي اوس هـم شـته چـې هغـه د علامـه صـاحب دغـه کتـاب د چـاپ ذکـر تـه راغلـی وای يقينـاً پښـتو او پښـتنو دواړو تـه بـه ئـې ګټـه رسـولې وای. د علامـه صاحب د دغه کتاب په اړه ځلاند صاحب ليکي:

"علامـه صـاحب د افغانـانو د تـاريخ ليکلـو پـه غـرض يـو نيمګـړی زيـار ايسـتلی دی، د دې نامـه يـو کتـاب د حضـرت جمـال الـدين افغـاني ليکلـی هـم شـته خـو د خپلـو مصـروفياتو پـه وجـه تـر اتـه نهـه مخـه نـه دی تېـر شـوی، دا کتـاب هـم پـه فارسـي دی، ژبـه ئـې سـاده او روانـه ده، پـه دې کښـې ئـې د پښـتنو د اصـل او نسـل پـه بـاره کښـې مختلـف نظريـات را نقـل کـړي دي، خـو سـړی پـه دې وجـه و يـوې نتيجـې تـه نـه شـي رسـېدلی چـې بشـپړه نـه دی، د دې کتاب دوې څرګندې برخې دي لکه: (1) تفصيل مضامين (2) تشريح لفظ افغانستان.

د تفصـيل مضـامين پـه سلسـله کښـې ئـې دغـه سـرليکونه ورکـړي دي. مـثلاً (1) حـالات مختصـرۀ تـاريخي افغانسـتان (2) تشخصـي مـردم شـماری افغانسـتان (3) تـذکرۀ نامهـائ متعـدده قـوم افاغنـه و شـرح آن، (4) ذکـر سـکونت افاغنـه و مسـافرت ايشـان (5) ذکـر مـذهب قـديم ايشـان و شـرح آوردن اسـلام آنهـا (6) ذکـر اقـوام مختلفـۀ، مؤرخـان و اسـباب اخـتلاف ايشـان (7) ذکـر اعتـراض مؤرخـان در بابـت نسـب اسـرائيلی (8) تـذکره دريافـت زبـان اصـلی افاغنـه و زبـان موجـوده، وقـت و کيفيـت نشـبو پشـتو (9) تـذکرۀ اخـتلاط مراسـم و شـباهت افغانـان بـا بنـی اسـرائيل (10) آنکـه افغـان از ده فرقـۀ گـم شـده بنـی اسـرائيل اسـت (11) اشـجار افغانـان متـوطن افغانسـتان (12) افاغنـه و صـلی کـه از نسـل افغانـان نباشـند (13) قبائـل و اشخاصـيکه بيـرون افغانسـتان متوطنـد (14) ذکـر تسـلط و تملـك افغانسـتان و بيرون افغانستان"(۲۲).

د الافغـان پـه نامـه د جمـال الـدين افغـاني کتـاب واقعـي هـم پښـتو اکېډمۍ چـاپ کـړی دی، خـو د علامـه صـاحب د کتـاب موضـوعات لـه هغـه ځخـه ډېـر بـدل دي، لـه دې دا څرګنـديږي چـې د افغـاني صـاحب د کتـاب پـه موجـودګي کښـې هـم د علامـه صـاحب کتـاب

بې ارزښته نهٔ شي کېدای او چې دا پورته ورکړل شوی فهرست څوك ووائي نو اندازه کېږي چې په ډېرو اهمو حوالو علامه صاحب ليکل کړي دي. او تر ټولو اهمه خبره خو دا ده چې دا کتاب په فارسي ژبه کښې ليکل شوی ؤ که چاپ شوی وای نو تر پښتنو به ئې زياته ګټه د فارسي ژبې ويونکو ته رسېدله. او دا به هم معلومه شوې وای چې کوم محققين د بني اسرائيلو د نظرئې په اړه دلائل لري هغه به ټول په يو ځای ميدان ته راغلي وای او د علامه صاحب خپله نظريه د پښتنو په اړه به هم ميدان ته راغلې وای. خو افسوس چې دغه کتاب اوس نهٔ شته او د پښتو ژبې له ادبي او تاريخي دواړو برخو څخه مونږ ته تاوان ورسېدی. له ابو الخير ځلاند پرته نورو محققينو د دغه کتاب په اړه څهٔ خاص خبرې نهٔ دي کړې او نهٔ ئې د دې کتاب خصوصي ذکر کړی دی.

د علامه عبد العلي اخونزاده يو کتاب چې ځينې محققين ئې روغ کتاب ګڼي او ځينې وائي چې دغه پر يو بل کتاب باندې حاشيه وه چې علامه صاحب هغه وخت په ډېر کم وخت کښې يو داسې چا ته ليکلې وه چې هغه ورته د خار په شکل کښې وئيلي ؤ چې نوم مې دي اورېدلی دی، ايا علم دې هم دغومره اوچت دی لکه نوم چې دې اوچت دی که هسې مشهور شوی ئې. نو علامه صاحب روغ کتاب ورته ليکلی ؤ. خو دغه کتاب ځينو خلګو د يو کتاب حاشيه بللې ده لکه:

"دا روايت د علامه د خولې کوم چې د شهيد عبد الواسع اخونزاده مرحوم او مغفور احوال له کندهاره راغلی چې نوم دي ډېر اورم، څهٔ علمي لياقت هم لرې که تش نوم ئې، دهٔ ووئيل ما پر فلاني کتاب خپلې حاشئې وليکلې، هغه کتاب مې ورولېږهٔ، څهٔ زمانه پس ئې خط راغلی، ډېر څهٔ ئې ليکلي وو، د خط يوه جمله دا ده چې الحمد لله لياقت علمي دې تر شهرت زيات دی"(۲۳).

هم دغه د حاشئې خبره ابو الخير ځلاند د حافظ خان محمد په حواله کوي او د روغ کتاب حواله ورکوي يعني چې پر کتاب حاشيه نهٔ وه بلکې روغ کتاب ؤ او دی ليکي چې:

*"اور محترم ابو الخیر زلاند لکھتے ہیں، ہم نے پہلے حافظ صاحب کے حوالے سے لکھا کہ علامہ نے قندہار کے مولانا عبد الواسع شہید کے خط کے جواب میں مکمل کتاب تصنیف کر کے انہیں بھیج دی، لیکن بعد میں پتہ نہیں چل سکا کہ وہ کتاب کس موضوع پر تھی، اور کہاں ہے، مگر حافظ صاحب کی کتاب میں اس روایت کے الفاظ اور معنی دونوں مندرجہ بالا عبارت سے جدا ہیں، وہ لکھتے ہیں، میں علامہ کے زبان سے روایت کر رہا ہوں کہ شہید مولانا عبد الواسع کی خبر قندہار سے آئی کہ آپ کا نام بہت سنتا ہوں، کچھ قابلیت بھی ہے، یا صرف نام ہی ہو، تو علامہ نے فرمایا کہ میں نے فلان کتاب پر حاشیہ لکھا پھر انہیں بھیج دیا، کچھ عرصہ بعد انکا خط آیا اس میں بہت کچھ تھا اس کا ایک جملہ یہ ہے، کہ الحمد للہ آپکی قابلیت آپکی شہرت سے بہت بلند ہے۔"(۲۴)*

د دغې پورتنۍ حوالې په رد کښې د پښتو ژبې لوی عالم عبد الرؤف بېنوا په اوسني ليکوال کښې ليکي چې دغه پر کتاب حاشيه نۀ بلکې روغ کتاب ؤ او ليکي:

"ملا عبد الواسع مرحوم د قندهار څۀ علامه عبد العلي ته يوه پلا ليکلي وو، زۀ ستا نوم اکثر اورم، څۀ علمي قابليت هم لرې که بس نوم دی؟.

مولانا عبدالعلي په جواب کښې په څو ورځو کښې دننه يو کتاب وليکی او د شهيد عبد الواسع مرحوم د خط په ځواب کښې ئې هغه ته ورولېږۀ، شهيد موصوف د کتاب د مطالعې نه پس په يؤ اوږدۀ خط کښې د عبد العلي مرحوم په تعريف او توصيف د ډېرې خوشحالۍ اظهار وکړ، د هغۀ د خط يوه جمله داسې ده:

د شکر ځای دی چې ستاسي علمي قابليت ستاسو تر شهرت دېر زيات دی"(۲۵).

د دې دواړو خبرو تر مينځ راغلی فرق زيات د کتاب خوا ته د انسان سوچ بيائي ځکه چې وروسته ځنې داسې نورې حوالې هم شته چې هغه ئې هم د کتاب خبره کوي د کومو په اړه چې واصل واسطي داسې ليکلي دي:

"ہمارے نزدیک جعفر اور زلاند کی بات قابل ترجیح ہے، وجہ ترجیح اور ان اختلافات کی حقیقت جاننے کیلئے دیکھئے، شخصیت اور شاعری، کے متعلقہ ابواب دیکھ لیں اس بحث سے یہ بات ثابت ہوتی ہے، کہ انہوں نے شہید مولانا عبد الواسع کے جواب میں ایک کتاب لکھی تھی، محترم زلاند صاحب نے علامہ کی ایک اور تصنیف کا بھی حوالہ دیا ہے، لکھتے ہیں، اس طرح حافظ مرحوم نے ایک اور جگہ تحریر کیا ہے، کہ علامہ نے بیدل کے دیوان کا بھی شرح کیا تھا، مگر وہ نکے وارثین کی غفلت سے ضائع ہو گیا."(۲۶)

د بشپړ کتاب خبره د پښتانۀ شعراء له دريم ټوکه چې علامه عبد الحی حبيبي پښتو ټولنې ته د علامه عبد العلي اخونزاده د ژوند حالات ورکړي وو، په هغو معلوماتو کښې حبيبي صاحب هم د حاشئې پر ځای د روغ کتاب خبره کوي او ليکي چې:

"د افغانستان مشهور جيد عالم ملا عبد الواسع هيد (1308هـ کال مړ) له کندهاره ښخه علامه عبد العلي ته يوه پلا ليکلي ؤ چې ستا نوم اکثر اورم څۀ علمي قابليت هم لرې که تش نوم دي دی. مولانا عبد العلي ئې په جواب کښې په يو څو ورځو کښې دننه يو کتاب وليکۍ، او د شهيد عبد الواسع مرحوم د خط په جواب کښې ئې هغه ته ورولېږۀ، شهيد موصوف د کتاب د مطالعې بعد په يو طويل خط کښې د عبد العلي مرحوم په تعريف او توصيف د ډېرې خوشحالۍ اظهار وکړ هغه د خط يوه جمله داسې ليکي: "د شکر ځای دی چې ستاسي علمي قابليت تر شهرت ډېر زيات دی."(۲۷)

د دې پورتنيو حوالو په رڼا کښې مونږ په ټينګه سره وئيلی شو چې د علامه صاحب هغه ليکنه چې شهيد عبد الواسع ته ئې کندهار ته لېږلې وه هغه پر کتاب حاشيه نۀ بلکې يو روغ کتاب ؤ.

**مخزن المفردات**: د علامه عبد العلي اخونزاده يو کتاب د مخزن المفردات په نامه هم ليکلی شوی يادېږي خو تراوسه پورې د دې کتاب څۀ خاص نمونه په ادبي ميدان موجوده نۀ شته، دا کتاب علامه صاحب د فارسي او عربي د هغو شعرونو په لومړيو مصرعو ليکلی دی کومې مصرعې چې دوی د حروف تهجي په اعتبار ليکلې دي. د دغه کتاب په اړه ځلاند صاحب ليکي:

"په دې پاړکي کښې چې هم د يوې وړې کاپۍ نيمی برخه ده، علامه صاحب د حروف تهجي په حساب د فارسي او عربي د هغو اشعارو صرف لومړۍ مصرع را اخستې دي چې په علمي حلقو کښې د متل غوندې شهرت لري، دا مصرعې زياتره د پنج کتاب له کريما، نام حق وغيره، ګلستان، بوستان او د دا راز نورو کتابو چې په ماجتانو او مدرسو کښې وئيل کيږي، سره اړه لري. زما غالب ګمان دا دی چې دا زيار ئې د طالب علمۍ په زمانه کښې د بيت بازۍ د مقابلو کولو دپاره ايستلی دی، ولې چې پخوا به طالبانو د جمعې په شپه په حجرو کښې د ذهني ازمائش په نيت د بيت بازۍ مقابلې زياتې کولې، دا تفريحي مقابلې له نن څخه په سوو کلونو وړاندې هم د طالبانو تر منځ کېدلې، لکه د نامتو شاعر علي خان له دې بيت څخه چې هم څرګنديږي:

"نۀ به وړې رقيب د بيت بازۍ برى له ما نه
ډاډ په حفظ ډېر د "نام حق" د کريما يم"(۲۸)

**ائينه حقيقت نما**: مونږ په مخکښې بابونو کښې د علامه صاحب د شخصيت په اړه او خصوصاً د هغو له مسلم ليګ سره د تړون په وجه د هغه وخت ملايانو د دې خلاف ډېرې خبرې کولې، او په دۀ باندې ئې ببلا ببل الزامونه لګوي وو، دا ځکه چې علامه صاحب يو خو له مسلم ليګ سره تعلق درلود او دويم د پښتنانۀ قام د ښې ورځې غوښتونکی ؤ او د همدغې همدردۍ له کبله ئې د خان شهيد د قيد په وخت کښې داسې ذکر کوي:

"ښۀ مې په ياد دي چې زمونږ د لومړي بند پر وخت چې په کال 1930ء کښې ؤ چې (کرنل بروس) د هغه وخت د ګورنر جنرل ايجنټ ؤ او زما ملۀ په دغه کال د څو مياشتو بنده پس مچ د جېله کوټې ته د څۀ جوړې دپاره را وغوښتو او د دسمبر پر 25مه ئې په خپل کور کښې پرېښولو او مونږ په ډېر يخ او واوره کښې د بنديانو په جامو کښې د

بندیانو پـه توګـه د ډېـرو پولیسـو پـه څـوکۍ کښـې پيـاده د جېلـه را روان وو او هېڅـوك ئـې نژدې نـۀ را پرېښـوولو نـو د هغـۀ وخـت پـه مـرۀ بلوچسـتان او وېـده کوټـه کښـې د څـو تنـو نـژدې خپلوانـو سـيوا بـل يکـی يـوازی سـړی همدغـه سـپين ږيـری مـلا ؤ چـې سـهار وختـي پـه شـنۀ يـخ زمـونږ د ډاډنـې دپـاره د هـودې تـر بـازاره راغلـی ؤ او چـې لـه لـرې ئـې مـونږ ولیـدو پـر ږيـره ئـې د روښـو او تـودو اوښـکو يـو رود را روان شـو، چـې د هغـو هـر هـر څـاڅکي زمـونږ پـه زړو کښـې يـو ډول غېـرت او همـت پېـدا کـړ. وروسـته هـم پـر هـر ځـای دې ښـاغلي پـه درنـو ښـوونو او مينـه زمـونږ ډاډ کـاؤ کـه څۀ هـم دوی خپلـه زمـونږ پـه ډلـه را ګـډ نـۀ ؤ خـو زړۀ ئـې را سـره ؤ او پـه هغـه وخت کښې دا هم ګران کار ؤ."(۲۹)

هـم دغـه لـه قـام پرسـتانو سـره د علامـه صـاحب مينـه وه چـې د هغـۀ وخـت ملايـانو وربانـدې الزامونـه ولګـول او علامـه صـاحب دې تـه مجبـور شـو چـې د دې ملايـانو د الزامونـو پـه ځـواب کښـې څۀ نـه څۀ وليکـي، نـو د دغـو ملايـانو د الزامـاتو پـه ځـواب کښـې علامـه صـاحب يـو روغ کتـاب د "آئينـه حقيقـت نمـا" پـه نامـه وليکـۍ او د دغـه کتـاب پـه اړه ځلاند صاحب داسې ليکي:

"داسـې معلـوميږي چـې علامـه صـاحب يـو بـل کتـاب د آئينـه حقيقـت نمـا" پـه نامـه ليکلـی ؤ چـې پـه هغـه کښـې ئـې د هغـو الزامـاتو ترديـد کـړی ؤ. چـې د مـذهبي طبقـو لـه خـوا پـر دۀ لګول شوي وو، له دې کبله دی "آئينه حقيقت نما" تر عنوان لاندې داسې ليکي:

"ستم نصیب دلم من کجا و درد کجا :: نفس به کوچۀ نی رفت، ناله پېدا کرد
هزاران عیب میگویند بر من :: ولیکن فی الحقیقت زان یکی نیست
موحد و مسلم و شاگرد عقلم :: بقرآن عاملم در آن شکی نیست
زنام فرقه بندی میگریزم :: زمن اولاد آدم راز کی نیست"(۳۰)

ترجمـه: (ظلـم زمـا د زړۀ برخـه دی، زۀ چـرې او درد چـرې، نفـس د نـی پـه کوڅـۀ ولاړ، فريـاد ئـې پېـدا کـړ، زرګونـه عيبونـه پـر مـا وائـي خـو پـه حقيقـت کښـې لـه هغـو عيبونـو څخـه يـو هـم نـۀ شـته، زمـا عقـل موحـد، مسـلم او شـاګرد دی، پـه قـرآن عمـل کـوم پـه دې کښـې هـېڅ شك نۀ شته، د فرقه بندۍ له نامه تښتم، له ما سره د ادم د اولاد راز کله نۀ ؤ).

کلـه چـې علامـه صـاحب لـه لـوړو زده کـړو فـارغ شـو نـو د معاشـرې او خاصـکر د خپـل کلـي د اصـلاح دپـاره ئـې اواز پورتـه کـړ، او پـه کلـي کښـې چـې کـوم غېـر شـرعي او رواجـي کارونـه کېـدل نـو علامـه صـاحب د هغـۀ مخالفـت کـاؤ ځکـه د هغـه وخـت ملايـانو پـه دې وجـه هم ورسره مخالفت درلود. د دغه مخالفت په اړه واصل واسطي صاحب ليکي:

"علامہ مرحوم نے فراغت کے بعد اصلاح احوال و اعمال کیلئے مختلف تدبیریں کی، انہوں نے اپنے گاؤں میں معلمین اور نائبین کا تقرر کیا، جو لوگوں کی بالعموم اور بچوں کی بالخصوص تعلیم و تربیت کرتے تھے، انہوں نے خود بھی ہر موقع پر لوگوں کی اصلاح وعظ و تبلیغ سے کام لیا، علماء سوء اور بد کردار مرشدوں کے خلاف تو انہوں نے مذاکرے اور مناظرے بھی کئے، بعض اوقات تو اپنے رشتہ دار بھی انکی مخالفت پر کمربستہ ہو جاتے۔"(۳۱)

**فیصله اسماني**: علامه صاحب د علم په ګېنه پسوللی شخصیت ؤ، او هر وخت ئې چې د دین او شریعت خلاف د بدعاتو په حواله کوم کار لیدلی ؤ د هغې خلاف ئې په ډاګه ناره کړې وه، خو چې د وړو وړو بدعاتو خلاف ئې اواز پورته کاؤ نو د داسې غټو خبرو خلاف به څنګه خاموشه کېښنوست، ځکه خو د دوی د دغه کتاب نوم فیصله اسماني دی چې دا کتاب د مرزا غلام محمد قادیعني د کتاب "آسماني فیصله" په جواب کښې لیکل شوی ؤ او د دې کتاب اصل مقصد دا ؤ چې غلام محمد قادیانی پېغمبر نهٔ دی او دهٔ دا کم عقله او بې علمه مخلوق خطا کړی دی ځان ئې ورته پېغمبر جوړ کړی دی. د علامه صاحب د دغه کتاب په اړه ځلاند صاحب لیکي:

"علامه صاحب غالباً د "فیصله اسمانی" تر عنوان لاندې هم یو کتاب کښلی ؤ، دا کتاب شاید په فارسي کښې ؤ، د کوم چې یو باب "مسیح قادیانی" ؤ، زهٔ دا خبره ځکه کوم چې د دهٔ د یو نظم عنوان دی "بر فیصله آسمانی" اخونزاده صاحب د فیصله آسماني د باب مسیح قادیعني په حواله د قادیان د دروغژن پېغمبر مرزا غلام احمد د چل او فرېب په باره کښې داسې لیکي چې که څهٔ هم دهٔ په خپل فرېب ډېر سادهٔ ګان تېر ایستلي دي خو ما د هغهٔ له دروغو او ټګیو څخه په مفصل او مدلل ډول پرده ایسته کړې ده، لکه چې وائي:

من به تحریر صفائی ید بیضا دارم :: او که در ابله فریبی ید طولی دارد
آنکه او دعوه مهدی و مسیحا دارد :: بس علامات ز دجال هویدا دارد

د قاد یعني مذهب د پېشو مرزا غلام احمد قادیعني د یؤ اردو کتاب چې نیوي (90) مخه دی، نوم ئې "آسمانی فیصله" دی، علامه صاحب خپل کتاب "فیصلۀ آسمانی" غالباً د هم دغه کتاب په رد کښې کښلی دی، خو افسوس چې د علامه صاحب دغه کتاب هم د نورو تصانیفو غوندې د تل دپاره ضائع شوی دی"(۳۲).

**پایله**: د علامه صاحب له پورتنیو کتابونو پرته په بېلا بېلو موضوعاتو مضامین او مقالې هم لیکلې دي. په شاعرۍ کښې خو دومره حاضر ځواب ؤ چې په فی البدیهه توګه ئې شعرونه وئیلي دي. او د افسوس خبره دا ده په وروستیو شپو کښې د شاعري کولو په حق کښې نهٔ ؤ او شاعري ئې داسې خاص کارنامه نهٔ بلله، ګنې ډېره زوروره شاعري به

ئـې نـوره هــم میـدان تـه راغلـې واى، او دغســې د علامــه صـاحب ډېـره شـاعري چـې دوى محفوظــه کــړې نــهٔ وه او د دوى د طالــب علمــي پــه دور کښــې چــې بــه ســندرغاړو یــا باندارچیانو پـه باندارونو کښـې وئیلـه هغـه ټولـه شـاعري ئـې لـه منځـه تللـې ده. خـو بیـا هـم چـې د دې خبـرو وضـاحت وشـو نـو عـین ممکنـه ده چـې پـه راتلـونکي وخـت کښـې د علامـه صــاحب د فارســي، عربــي یــا پښــتو کتابونــه د محققینــو لاس تــه راشــي او یــا ئــې دا د محفلونـو خـوره وره شـاعري محققـین د ادب میـدان تـه را ښـکاره کـړي. د علامـه عبـد العلـي اخـونزاده پـه لائبرېـرى کښـې لـه خپلـو تصـنیفاتو عـلاوه نـور هـم ډېـر ګټـور چـاپ کتابونـه او قلمـي نسـخې پرتـې وې چـې ځینـې خـو دوى خپلـه محققینـو تـه د کـار کولـو دپـاره ورکـړې لکـه د پټـې خزانـې قلمـي نسـخه چـې ئـې علامـه عبـد الحی حبیبـي تـه سـپارلې وه، دغسـې نــورې نســخې او کتابونــه هــم ؤ چــې علامــه صــاحب د ژونــد پــه وروســتیو شــپو کښــې د ضرورت سره سم په کار راوستو.

❁❁❁

# حوالې

(۱) واسطی، واصل، مینارِ تعلیم، صد سالہ تقریبات خانوزئی، حافظ کتب خانہ کوئٹہ، 2014ء، ص53.
(۲) خان محمد ، حافظ، د کسې ګلان، بلوچستان بك ډپو کوټه، 1989ء، مخ118.
(۳) کاکړ، سیال، د کسې د لمنې پښتانهٔ لیکوال، (لومړی ټوك)،
پښتو ادبي دنیا کوټه، اکتوبر 1974ء، مخ134.
(۴) خان محمد ، حافظ، د کسې ګلان، مخ118.
(۵) ایضاً، مخ119.
(۶) حمید الله، صاحبزاده، لویٔ عالم، غټ مصلح او پوخ شاعر عبد العلي اخونزاد ،
(مشموله میاشتنۍ پښتو مجله اولس کوټه، اسلامیه پریس کوټه،
جون 1987ء، مخ9.
(۷) ایضاً، مخ11.
(۸) حمید الله، صاحبزاده، د پښتو نامتو عالم او شاعر عبد العلي اخونزاده،
(مشموله میاشتنۍ پښتو مجله اولس کوټه، اکتوبر 1973ء، مخ17.
(۹) صلاحي، دین محمد ، علامه عبد العلي اخونزاده،
(مشموله میاشتنۍ پښتو مجله اولس کوټه، جون 1962ء، مخ14.
(۱۰) نیازی، شهسوار سنګروال، د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ،
دانش کتاب خانه قصه خوانۍ پېښور، 1997ء، مخ550.
(۱۱) اخونزاده، عبد العلي، (مشموله د عبد العلي اخونزاده دیوان)
پښتو اکېډمۍ کوټه، 1992ء، مخ13، 14.
(۱۲) درانی، درویش، (سریزه) (مشموله د عبد العلي اخونزاده دیوان)
پښتو اکېډمۍ کوټه، 1992ء، مخ7، 8.
(۱۳) ځلاند ، ابو الخیر، د کسې لمر، پښتو ادبي کاروان سره غوړګۍ کوټه،
1995ء، مخ17، 18.
(۱۴) حمید الله، صاحبزاده، د پښتو نامتو عالم او شاعر عبد العلي اخونزاده، مخ18.

(۱۵) ایضاً ، مخ17.

(۱۶) ځلاند ، ابو الخیر ، د کسې لمر ، مخ157.

(۱۷) حمید الله، صاحبزاده، پښتو ادب په سهېلي پښتونخوا کښې،
صاحبزاده کتاب کور پښین، 1989ء، مخ46.

(۱۸) ځلاند ، ابوالخیر ، د کسې لمر158.

(۱۹) رضا ، محمد افضل، د پښتو نثر تاریخ، یونیورسټی بك ایجنسي، پېښور،
(دوېم چاپ) 1995ء، مخ397 تا 400.

(۲۰) نیازی، شهسوال سنګروال، د پښتو ادبیاتو معاصر تاریخ، مخ109.

(۲۱) ځلاند ، ابو الخیر ، د کسې لمر ، مخ159.

(۲۲) ایضاً ، مخ163.

(۲۳) خان محمد ، حافظ ، د کسې ګلان، مخ116.

(۲۴) واسطی،واصل، مینار تعلیم، ص54.

(۲۵) بېنوا ، عبد الرؤف، اوسني لیکوال، علامه رشاد خپرندویه ټولنه کندهار ،
2009ء، مخ814.

(۲۶) واسطی، واصل، مینار تعلیم، ص54.

(۲۷) پښتانهٔ شعراء، مرتبین بېلا بېل (درېم ټوك) پښتو ټولنه کابل، افغانستان،
1342هـ ش، 894.

(۲۸) ځلاند ، ابو الخیر ، د کسې لمر ، 160.

(۲۹) شهید ، خان عبدالصمد خان اڅکزی، بحواله اوسني لیکوال
(د عبدالرؤف بېنوا تالیف)، مخ811.

(۳۰) ځلاند ، ابو الخیر ، د کسې لمر ، مخ164.

(۳۱) واسطی،واصل، تعلیم مینار، ص39.

(۳۲) ځلاند ، ابو الخیر ، د کسې لمر ، مخ165.